## د ترون د ورکولو دپرېکړې خبرتیا

د ملي تدارکاتو ریاست د (20580) شمېرې او 1447/12/27 نېټې د متحدالمال د دویمې مادې د (6) بند پر بنسټ ټولو ته خبر ورکول کېږي، چې د افغانستان بانک په پام کې لري چې د افغانستان بانک د بامیان، پروان او کاپیسا نمایندگیو لپاره د تشنابونو، سپټیک څاه او د امنیتي ټاور جوړول، او د پلي‌لارو د ډبرو چمتو او نصب کولو پروژې د تشخیصیه شمیرې DAB/1405/NCB/W11 لرونکې ده، د مرسل سلطان ودانیزو، سړک جوړولو، د ودانیزو موادو چمتو کولو او برېښنا رسونې شرکت ته ورکړي، چې دا شرکت د (51381) شمېرې جواز لرونکی او اصلي موقعیت یې د 15 ناحیه د مخدره موادو سړک، کابل مرکز کې دی د ترون ټولیزه بیه (2,684,490.53) دوه میلیونه شپږ سوه څلور اتیا زره څلور سوه نوي اعشاریه درې پنځوس افغانۍ ده.

د حقیقي او حکمي اشخاصو د هر ډول نیوکو پر مهال، دوی کولای شي خپله نیو که په لیکلې بڼه د لاملونو په یادولو سره د اعلان د خپریدو له نېټې تر پنځه (5) کاري ورځو پورې د افغانستان بانک د تدارکاتو لوی آمریت ته، چې په ابن سینا واټ کې موقعیت لري، وسپاري.

دا خبرتیا د ترون د عقد کولو په مانا نه ده او د پورته یادې شوې مودې او د راتلونکو قانوني پړاوونو تر بشپړیدو به ترون نه کیږي.

د افغانستان بانک، ابن سیناواټ، کابل افغانستان/ تیلفون: 2106692/ فکس: 2100305(20)0093/ ایمیل: info@dab.gov.af/ ویب سایت www.dab.gov.af